عبدالغفارپوپل

۲۰۱۲/۰۴/۳۰

# دافغان کړیدلي ولس ښوونځي مه ړنګوئ؛

جنګ، جګړه او ناخوالي معارف او زدکړه له منځه وړي، او ترخوايي انساني ټولنه له ګنو تاو تريخوا لو او ستونزو سره مخامخ کوي، او پایله يې داکيږي چې د ټولنې وګړي له زدکړې بې برخې، د فقر او جهالت لمن هم پراخه شي، افغانستان دم ګړی ديوې تپل شوې جګړې په لمبو سوځي او دا کرغيړنه جګړه دتيرو دريو ليسزو په لړ کې دباندنيو مداخلو او دسايسو په نتيجه کې افغان ولسته را ليږدول شوې ده.

اوس چې دجګړې ټولې خواوې مالومې دي او خپلې موخې يې هم ټاکلي دي نور نو اړتيا نشته چې دافغان ولس ګټوته زيان ورسول شي او دهغوی شتمنۍ او بيلا بيل بنسټونه دخپلو غوښتو ښکاروګوځول شي، په حقيقت کې دجګړې پرمهال پر عامه ملکيتونو او ښوونځيو بريد او يا له منځه وړل لوی ملي خيانت ګڼل کيږي.

دجګړې ښکيلې غاړې لومړی دخپل ضمير او وژدان او بيا دخدای(ج) پر وړاندې کلک مسوليت لري چې خپل اعمال او موخې داسلام او ولس پر خلاف ونه کاروي او لازمه ده چې دجګړې پرمهال  ښوونځي او نور هغه تاسيسات چې د ولس د سوکالۍ لپاره دنده لري ونه ګواښوي.

له بده مرغه په دې ورستيو کې دهيواد په يو شمير نا کراره سيموکې افغان کړيدلي ماشومان يوځل بيا دخپلو ښوونځيو دسوزيدو او ياړنګيدو په وير او ماتم ډوب او دناهيلۍ اوښکې تويوي. حال داچې دوی دکومې ډلې او يا ګوند ملاتړ هم نه کوي خو بيا هم دظلم او تاو تريخوالي په لمبوکې لاهو دخپلوټولګيو، کتابونو ، ميز اوڅوکيو دسوزيدو ننداره کوي او دهيڅ ډول اقدام توان هم نه لري.

افغان ولس له هرڅه وړاندې پوهې او معارف ته اړتيا لري او ديوه حياتي عنصر په توګه د دې غوښتنې ساتنه او پالنه دهر افغان وګړي ملي او شرعي مسوليت دی. چې له بده مرغه دې موضوع ته اهميت نه ورکول کيږي او هِڅه کيږي چې لومړی هغه مراکز ړنګې شي چې په کې زدکړې ورکول کيږي. چې دا ملي خيانت ګڼل کيږي او ترسره کونکي يې دغه کرغيړنې عمل ته دلاسته راوړنې په سترګه ګوري.

له معارف سره دښمني او يا هم دمعارف پروړاندې خنډ اچول له خپل اولاد سره دظلم او تيري مانالري اوديوه غير انساني او اسلامي عمل په توګه کاملا دمنلو وړ نه دی، ښوونځی چې د زدکړې او خدای پيژندنې ځای دی له هرډول سياسي او پوځې معاملو څخه لرې ساتل کيږي، دا په دې مانا چې ښوونځی د ولس ملکيت دی ګټه او زيان يې هم پر ولس پورې تړاو لري.

دا له خواشينۍ ډکه خبره ده چې دافغانستان د راتلونکي نسلونو پر برخليک په ظالمانه ډول لوبې کيږي او هغوی د سواد له زدکړې بې برخې ساتل کيږي. د ښوونځي ړنګول په توليزه توګه د خپل ولس پر وړاندې لويه تير وتنه او جفا بلل کيږي، او دا عمل په تاريخ کې د يوه تور انځور په دول راتلونکيو نسلونوته ور پاتې کيږي.

ملي باور او افغاني هوډ هيڅ کله اجازه نه ورکوي چې پر لويو ارزښتونو لوبې وشي. او هغه ډلې ټپلې چې هېوادنۍ ګټوته ارزښت نه ورکوي او خپلې غوښتنې مشروع بولي بلاخره دنابودې کندې ته ور درومې او تيرو تجربو هم دا په ګوته کړې ده چې کوږبار منزل ته نه رسيږي.

په پای کې ديو افغان په صفت پر ټولو هغو لوريو چې په جګړو اخته دي غږ کوم چې ملي ارزښتونو اواسلامي مسوليتونو ته په کلکه پاملرنه وکړي، د ښوونځيو له ورانولو او سوځولو څخه دې مخنيوی وکړي او ياده دې وي چې له معارف سره دښمني کول لاسته راوړنه او بريا نه بلل کيږي بلکې له خپل ملت او هېواد سره د دښمنۍ مانالري. پای


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ